📘 **د اتم ټولګی د کیمیا تعلیمی لارښود** – د کور لپاره د خلاق زده کړې لارښود

**تعلیمي اونۍ: لومړی اونۍ**

**موضوع:** د اتم نظریې، د اتم برخې، اتومي عددونه او وزني عددونه

☑**لومړی اونۍ:** د اتم جوړښت په اړه بېلابېل نظریات

## ١. کلیدي مفاهیم په ساده ژبه

🔹 **اتوم څه دی؟**

- اتوم د مادې تر ټولو کوچنۍ ذره ده چې لا هم د مادې خصوصیات لري.
- په نړۍ کې هر څه له اتوم څخه جوړ شوي دي.

🔸 **بېلابېل نظریات:**

### 1. د ډالټن نظریه (John Dalton – 1803)

- اتومونه خورا ډېر کوچني ډک کروی ذرې دي چې د تجزیې وړ نه دی.
- اتم تجزیه نه ګېږی (په هغه وخت کې داسې ګڼل کېده).
- د یو عنصر اتومونه یو شان دي؛ د بېلابېلو عناصرو اتومونه له یو بل سره توپیر لري.

### 2. د تامسون نظریه (J.J. Thomson – 1897)

- الکترونونه د ممیزه په شان په ممیز لرونکي کیک کې د مثبت چارچونو د خمیرې په منځ کې خپاره شوي دي.
- دې مدل ته هم د " ممیز لرونکي کیک " مدل وايي.

### 3. د رادرفورډ نظریه (Ernest Rutherford – 1911)

- اتوم یوه وړه هسته لري چې د اتوم تقریباً ټوله کتله په هغه کې تمرکز موندلی دی او داهسته مثبت چارج لري .
- د هستې حجم د اتوم د حجم په پرتله ډېر کوچني دی ، نو له دې کبله د اتوم د حجم ډېر برخه تشه فضا جوړوي.
- د اتوم هسته د الکترونو په واسطه چاپېره شوې ده .

### 4. د نیز بور نظریه (Niels Bohr – 1913)

- الکترونونه په ځانګړو مدارونو (د انرژۍ مدارونه) کې د اتوم د مرکز شاوخوا ګرځي.
- هر مدار د انرژۍ خپل ځانګړی حد لري.

## 2- عملي او خلاقانه فعالیت

🎨 **د اتوم مدل جوړښت:**

- د رنګین کاغذ، تنۍ، تار او ګرد کاغذ په کارولو سره د بور ساده اتوم مدل جوړ کړئ.
- تنۍ د پروتون او نیوترون لپاره؛ تار د مدار لپاره؛ کوچني موتی د الکترونونو لپاره.

🧠 **مقایسوي فعالیت:**

- یوه جدول جوړ کړئ چې په کې د ډالټن، تامسون، رادرفورډ او بور نظریات سره پرتله کړئ.

🎨 **کورني تمرینونه:**

- په ساده ژبه ولیکئ: که زه د ډالټن په وخت کې وای، اتوم به مې څنګه لیدلی وای؟
- د تامسون مدل او د رادرفورډ مدل ترمنځ یوه توپیر تشریح کړئ.

**۴ . د درس لنډیز په جدول کې:**

| ساینس پوه | د نظریې ځانګړتیا | سال |
|---|---|---|
| دالتن | نه ویش اتومونه | 1803 |
| تامسون | اتوم له مثبت چارج او منفي الکترونونو سره | 1897 |
| رادرفورد | مرکزي مثبت هستو، الکترونونه شاوخوا | 1911 |
| بور | الکترونونه په ځانګړو مدارونو کې د ټاکلې انرژۍ سره | 1913 |

☑ **د اتوم اجزا**

**۱ .مهم مفاهیم**

**د اتوم اصلی اجزا :**

| د اتوم برخه | د کتلې نمبر | موقعیت | برقي چارج |
|---|---|---|---|
| پروټونونه | 1 | په هسته | مثبت(+) |
| نیوترونونه | 1 | په هسته | بدون چارج(0) |
| الکترونونه | دیر کوچني (تقریباً صفر) | د هسته شاوخوا مدارونه | منفی(−) |

- هسته پروټونونه او نیوترونونه لري.
- د اتوم زیاتره کتله په هسته کې راټول شوی دی
- الکترونونه ډېر کوچني دي، خو د چارجونو په توازن کې رول لري.

**دویم عملی فعالیتونه په ساده ډول .**

**◯ فعالیت – ساخت مودل اتوم:**

- د سره لوبیا (پروتون)، سپین نخود (نیوترون) او کوچني داني (الکترون) په کارولو سره د اتوم یو مود ل جوړ کړئ.
- هر دایروي کاغذ د یوې مدار نښه ده.

**🔁 فعالیت – د چارجونو توازن تجربه:**

- دوه کوچني بالونه ( پوقانه )د وړو وړیو ټوټو سره ومښلئ او یو بل ته یې نږدې کړئ.
- ځکه چې دا الکترونونه جذبوي، منفي چارج پیدا کوي او یو بل څخه دفع کیږي.
- نتیجه: ورته چارجونه یو بل څخه دفع کیږي..

**دریم تمرین : کورنۍ تمرینونه**

- اتوم دری برخي ولیکئ او د هرې لپاره یوه شکل جوړ کړئ.
- که یو اتوم 6 پروټونونه ا و 6 الکترونونه ولري ، دهغې چارج څه دی ؟

**ځواب ( بې چارج )**

**4- د درس خلاصه په جدول کې**

| برخه | اهمیت | موقعیت | چارج |
|---|---|---|---|
| پروتون | د عنصر ټاکونکی | په هسته | + |
| نیوترون | د اتوم وزن | په هسته | 0 |
| الکترون | د کیمیاوي چلند ټاکونکی | د هسته شاوخوا | − |

☑ **اتومي نمبر او د کتلي نمبر**

**۱ .مهم مفاهيم**

**اتومي نمبر: (Atomic Number)**

- د اتوم په هسته کې د پروتونونو شمېر ښيي.
- د هر عنصر لپاره دا عدودنو يوازيني ده.
- عموماً د Z توري سره ښودل کيږي.

مثال: د اکسيجن اتومي عددونه = 8 → مطلب دا چې 8 پروتونونه لري.

**د کتلي نمبر: (Mass Number)**

- هسته د پروتونونو او نيوترونونو توليز شمېر دی.
- د پروتونو شمېر + د نيوترونو شمېر = Mass number
- عموماً د A توري سره ښودل کيږي،

ساده فورمول $A = Z + N$

- د کتلي نمبر = اتومي نمبر + د نيوترونونو عددونو

**۲- کورني فعاليتونه**

🧮 **د محاسبي پوښتنه :**

مثال: که د عنصر اتومي شمېره 11 وي او وزني شمېره يې 23 وي:

- پروتونونه = 11
- نيوترونونه 12 = 11 – 23
- الکترونونه = 11 (په بېچارجه حالت کې)

✍ **د ياداښت تمرين:**

درى عنصرونه وټاکئ او د هر يوه لپاره:

- اتومي عددونه ، وزنى عددونه ، د نيوترونونو شمېر پيدا کړئ او په جدول کې وليکئ.
- **٣- خلاقانه فعاليت:-**

📊 **د کور جدول جوړول:**

عنصر | اتومي عددونه | وزنی عددونه | نيوترونونه | پروتونو نه | الکترونونه
—|—|—|—|—|—
هايدروجن | 1 | 1 | 0 | 1 | 1
کاربن | 6 | 12 | 6 | 6 | 6
اکسيجن | 8 | 16 | 8 | 8 | 8

🎨 **رنګين کارتونه:**

- آبی کارت = اتومي نمبر
- شين کارت = د کتلي نمبر
- ژير کارت = نيوترونونه

(د هر عنصر لپاره د دې کارتونو په کارولو سره وښايئ)

**۴ - د توپيرونو خلاصه په جدول**

| د عددونه ډول | مثال | تعريف | نښه |
|---|---|---|---|
| اتومي نمبر | Z = 6 (کاربن) | د پروتونونو شمېر | Z |
| د کتلي نمبر | A = 12 (کاربن) | پروتونونه + نيوترونونه | A |
| نيوترونونه | N = 6 (کاربن) | A – Z | N |